# د ځايي(ابوريجنل) او توريس سټرېټ ټاپو اوسيدونکيو د غږ په اړه ريفرنډم (ټولپوښتنه)

د آسټراليا خلک د ډېرو هيوادونو څخه راغلي، ډېری عقيدې لري او په ډېرو ژبو خبرې کوي .ځايی(ابوريجنل) او د توريس سټرېټ ټاپو خلک د آسټراليا لومړني خلک دي او د 65,000 کلونو څخه د ډېري مودې راهيسې، دلته ژوند کوي . مګر د آسټراليا اساسي قانون د دوی ځانګړی دريځ په رسميت نه پېژني . له همدې امله د دې کال په وروستيو کې، موږ به وکولی شو دټولپوښتنې له لارې زموږ په اساسي قانون کې بدلون په پام کې ونيسو . ټول استراليايان به د دې فرصت ولري چې زموږ په اساسي قانون کې به د ځايي(ابوريجنل) او توريس سټرېټ ټاپو اوسيدونکي خلک د غږ له لارې وپېژني، چې دا ډاډ ترلاسه شي چې د دوي د مسلو په اړه چې پر دوی اغيزه کوي، واوريدل شي.

## د زړه څخه د اولورو بيان (Uluru Statement from the Heart) څه شی دی؟

د 2017 په مې کې، له 250 څخه ډېر ځايي او توريس سټرېټ ټاپو خلکو د زړه څخه د اولورو بيان خپور کړ . دا له موږ څخه غوښتنه کوي چې د ټول آسټراليا لپاره ښه راتلونکی رامينځته کړو او د آسټراليا په اساسي قانون کې د ځايي او توريس سټرېټ ټاپو اوسيدونکيو غږ شامل کړو.

## د ځايي او توريس سټرېټ ټاپو اوسيدونکيو غږ څه شی دی؟

د ځايي او ټوريس سټرېټ ټاپو اوسيدونکيو غږ د د ځايي او توريس سټرېټ ټاپو خلکو لپاره يوه لاره ده چې حکومت ته د قوانينو او پاليسيو په اړه مشوره ورکړي چې پر دوی باندې اغيزه کوي.

## ټولپوښتنه څه شی دی؟

ټولپوښتنه هغه وخت چې د رايه ورکوونکي څخه غوښتل کيږي چې د يوې پوښتنې يا پوښتنو ته هو يا نه ځواب ووايي. د استراليا د اساسي قانون د بدلولو يوازينۍ لار د ټولپوښتنې له لارې ده.

## څوک کولی شي په يوه ټولپوښتنه کې رايه ورکړي؟

يوازې هغه خلک چې د رايې ورکولو لپاره ثبت وي کولي شي په ټولپوښتنه کې برخه واخلي .په ټولپوښتنه کې رايه ورکول د ثبت شويو رای ورکوونکو لپاره اجباري دي.

## زه څرنګه په ريفرنډم(ټولپوښتنه) کې رايه ورکړم؟

ټولپوښتنه د ټاکنو په څېر ده . د رای ورکولو په ورځ، تاسو کولی شئ د رای ورکولو ځای ته لاړ شئ او خپله رايه د رايې ورکولو په پاڼه کې واچوئ.

## د ټولپوښتنې پريکړه څنګه کيږي؟

د دې لپاره چې ټولپوښتنه بريالی شي، دوه ګونی اکثريت ته اړتيا لري . دا پدې مانا ده چې لږترلږه په څلورو ايالتونو او په ټوله آسټراليا کې د رايو اکثريت وي.

## کله به د ځايي(ابوريجنل) او توريس سټرېټ ټاپو اوسيدونکيو د غږ ټولپوښتنه ترسره شي؟

د ځايی(ابوريجنل) او توريس سټرېټ ټاپو اوسيدونکيو د غږ ټولپوښتنه به د دې کال په وروستيو کې ترسره شي.

## د ځايي او توريس سټرېټ ټاپو اوسيدونکيو د غږ ريفرنډم به کومه پوښتنه وکړي؟

"يو وړانديز شوی قانون: د آسټراليا د لومړي خلکو پيژندلو لپاره په اساسي قانون کې بدلون د ځايی او توريس سټرېټ ټاپو خلکو غږ په رامينځته کولو سره. ايا تاسو دا وړانديز شوی بدلون منظور کوئ؟"

## دا حقيقت پاڼه چا جوړه کړې ده؟

دا حقيقت پاڼه د Life Without Barriers, Reconciliation Australia, SNAICC – National Voice for our children, the Yes Alliance او Polaron Language Services په ګډه هڅه جوړه شوې. دا ملګرتيا د ځايي او توريس سټرېټ ټاپو اوسيدونکيو غږ ته د لاسرسي وړ مالوماتو په رامينځته کولو کې د مرستې لپاره رامينځته شوې.

نور مالومات

www.lwb.org.au



Tabatha Feher, Life Without Barriers, L6, 107 Pitt St, Sydney, NSW تصويب شوي